
چمتو والي کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

storyweaver PRATHAM BOOKS


# مهرباني وکړه وخانده!




**ليکوال:** سنجيو جيسوال 'سنجی'
انځورګر: اجيت نارااين

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د هوسۍ یو بچی په ځنګله کې په منډه منډه روان و.




هغه د سوی نه مخکې و.



هغه د فیل نه مخکې و.




هغه ټوپ کړ او د ويالې نه پورې واوښت.




هغه د لوېدلي دېوال نه په منډه تېر شو.



په شنه دښته کې یوه ستره ډبره پرته وه. هغه تیندک وخوړ او ولوېد.




هغه په ژړا شو.



بیزو د هغه پښه مالش کړه. د هوسۍ بچي له سترګو څخه اوښکې بهېدې.



یږ ورور هغه په غیږ کې ونیو. خو د غرڅه ژړا تم نه شوه.



د هغه مور راغله. هغې وویل، ”ګوره، مونږ به دا خرابه ډېره ماته کړو!“



د هوسۍ بچي وویل، ”اوه، دا کار مه کوه، کنه نو هغه به هم په ژړا شي.“ د هغه مور په خندا شوه. هغه هم وخندل.

# لارښودونکې پوښتنې

1. په کیسه کې د کومو ښاروو یادونه شوې ده؟ آیا تاسو له دغه ښاروو څخه کوم یو یې لیدلی دی؟ چېرته؟
2. د هوسۍ بچي په ځنګل کې څه کول؟
3. آیا د هوسۍ بچی په منډه کې چټک و؟ تاسو څنګه پوهېږئ؟
4. د هوسۍ بچی ولې په ژړا شو؟ چا هغه سره په کرارېدو کې مرسته وکړه؟
5. آیا تاسو کله غورځېدلي یاست؟ څه شوي وو؟